آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۲/۱۱

# «زه به نه لیونی کیږم؟»

د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ په لسم مازدیګر مې د فیسبوک په بڼ کې چکر واهه چې د ښه شاعر او خوږ غږي سندر غاړي، عیسی بهرام له لوري پر یوې آنلاین کړي ویډیو ور پېښ شوم. په ویډیو کې ښاغلي بخت زاده دانش د شعر لوستلو په حال کې لیدل کیږي.
په شعر کې یو دنیا حقایق ویل کیږي، پر پښتني ټولني باندې هغه حاکمې نا دودې ویل کیږي، چې همدا خلک یې په یوه تنګه دایره کې را ایسار کړي دي. چې شعر مې اوریده، ما ویل چې له خپل ذهن نه مې را وزي پر ژبه مې جاري کیږي او داسي مې و انګیرله چې دا خبرې زما دي او ښاغلی بخت زاده دانش یې وایي، خو د ده خبرې، د ده وې، او په خپل ځانګړي انداز سره یې ویلې او د ویلو او وړاندې کولو په یو ځانګړي هنر سره یې دا کار کاوه.
ما غوښتل چې په کامنټ کې یوازې بهرام صاحب نه تشه مننه وکړم، خو د دې شعر اوریدلو د خپل سکوت له کنډوالي نه یو ګلشن ته بوتلم. له ښاغلو بخت زاده دانش او عیسی بهرام نه د مننې تر لیکلو، سمدلاسه د بخت زاده دانش د شعر په پیروی، دا څو توري هم ورسره پر کاغذ رسم شول. دا هم زما د کامنټ او څو شعر ډوله تورو بشپړ متن:

نا پیژاند یار، بخت زاده دانش نه مننه
او له ګران عیسی بهرام نه مننه، بیا مننه!
چې زما د مودو، مودو سکوت مانۍ یې را ونړوله،
د میاشتو او کلونو تنده یې را ته ماته کړه.
ما هم د ښاغلي بخت زاده دانش د شعر په اوریدو سره، سمدلاسه دا توري ور ته ولیکل:

آخوا ګورم، دې خوا ګورم
هیڅ څوک نه راځي نظر ته
پناه یوسم کوم یو غر ته
وطن وران شو لوټه لوټه
هلته وران شو وطن وران شو
خلک ډوب دي جهالت کې
ګلستان نه را ستنیږي
ترکستان ته روانیږي
دلته هر څه ته چې ګورم، نوکریږم
زه به څنګه پاتې کیږم؟
«زه به نه لیونی کیږم؟»

د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ لسمه
هیدرسلیف، ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ